ليکوال: سرلوڅ مرادزی نېټه ۰۱-۱۲-۲۰۱۰

# د ډيورند جرګې د لروبرو افغانانو زړه ته لاره کړې

څنګه چې دې ورځو کې ټول لروبرافغانان خبر دي ، د ډيورنډ جرګې په نوم يوه خپرونه د اريانا افغانستان ټلويزيون لخوا د ښاغلي صديق متين په وياندی، د يو شمير نوميالو او هېوادپالو افغانانو لخوا په لار اچول شوې. دا خپرونه چې د پيل لومړۍ ورځې تېروي بيا هم د لروبرو افغانانو د پراخ ملاتړ ځرګندوی ده.
ويل کېدای شي دا خپرونه د پخوانيو هڅو ادامه ده. د انګريزي او بيا د برتانوي پنجاب په وړاندې د کوزو پښتنو او بلوڅو ورونو د خپلواکۍ غورځنګ چې د غازي امان الله خان له واکمنۍ روسته د شهيد سردار محمد داود خان او د هېواد د نورو هېوادپالو زامنو له ملاتړ څخه برخمن وو، د ۱۹۹۲ کال روسته د رباني په مشرۍ د شمالټلوالي او نورو مجاهدينو او همدارنګه د طالبانو د واکمنۍ په مهال نه يوازې دا چې له سختو چلوټو او ستونځو سره مخ شو بلکې نږدې وو چې د ډيورنډ د تپلې او ناولې کرښې له منلو سربېره، افغانستان هم د پاکستان د پنځم ايالت پټوګه پنجاب ته ډالۍ شي.
اوس چې افغانستان او سيمه کې حالات بدل شوي او د افغانانو د سربښندنو په پايله کې د پنجاب په نيت او ګټه د ډيورنډ د کرښې د منلو چلوټه رسوا شوې او د پنجاب لاسپوڅې او تالې څټې نه شي کولای د ډيورنډکرښه په پټو سترګو په افغانانو ومني، دا زموږ د افغانانو دنده ده چې له نويو حالاتو څخه په ګټه د لوی افغانستان ختيځې پولې سيحون (اباسيند) ته ځان ورسوو. دا چې پنجاب زور وواهه که افغانستان خپل پنځم ايالت کړي او يا د ډيورنډکرښه پر افغانانو ومني خو ويې نه شوای کړای، اوس د افغانانو وار دی چې ځان خپلې ختيځې طبعی کرښې يانې اباسيند ته ورسوي.
دا ټولو ته ځرګنده ده داسې لويه او تاريخي ستونځه او غوټه چې د انګريز له مهاله افغانانو ته راپاتې او پنجاب نوره هم پيچلې کړې ده، د يوه تلويزيون په خپرونو او يا د څو تنو افغانانو په لاس نه پرانيستل کيږي. همدارنګه دا ستره ملي وجيبه د يوې ورځې، مياشتې او يوه کال په اوږدو کې هم نه حليږي. خو لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه، دا پيل دی او پيل او هوډ (د شهيد سردار محمد داود خان په وينا) د بري لومړی شرط دی. که لروبر افغانان او په تېره بيا د افغانانو مخکښ او ملي موخو ته هوډمن کسان لاسونه سره يوکړو او لکه څنګه چې مو راپيل کړه همداسې پلپسې ادامه ورکړو ځاځکې به لښتي شي، لښتي به بيالې او بيالې به خوړونه او سيندونه شي. ځانګې به پاڼې او غوټۍ شي او غوټۍ به ګلونه شي.
د نومبر په ۳۰ مه د افغانستان د ژغورنې جرګې له نومه يوه اعلاميه په ملي بريښپاڼه افغان ـ جرمن انلاين کې خپره شوه، له لږ ځنډ روسته دا اعلاميه له دې بريښپاڼې څخه لرې شوه. روسته مې ددې اعلاميې پښتو او دري متنونه په دعوت ملي بريښپاڼه کې ولوستل، ښايی اوس هم هلته پيدا شي. ښکاری اعلاميه ډېره په بېړه ليکل شوي وي، ځکه پښتو او دري متنونه يې يو څه توپير سره لري، بلخوا کوم لاملونه چې اعلاميه کې د ډيورنډجرګې پر وړاندې کښل شوي پکې ډېر پام نه دی شوي.
دلته به ددې اعلاميې له متن څخه د بېلګې پټوګه ځينې برخې د شننې لپاره راواخلم :
« نړيواله پوځي ټلواله د ډيورنډ کرښې په اړه خپلو تبليغاتي ډنډورو او غوغا سره لاندنۍ موخې لري:
۱ – غواړي پر پاکستان د باو واچوي چې په شمالي وزيريستان کې د افغان مقاومت پر خلاف له سره پوځي عمليات پيل کړي. »
نړيوالې پوځي ټلوالې **کله او په کومه وسيله** د ډيورنډکرښې په اړه تبليغاتي ډنډوره او غوغا جوړه کړې او خپره کړې ، اعلاميه کې يي بايد يوه بېلګه ښوول شوی وای. دا چې اعلاميه کې ويل کيږي شمالي وزيرستان کې افغاني مقاومت ، کوم افغاني مقاومت؟ دلته هم په دري متن کې د جلال الدين حقاني نوم اخيستل کيږي خو د پښتو په متن کې د جلال الدين حقاني نوم نشته، وګورۍ :
« حمله تـــيارات بي پيلوت امريکائي را در مقـــر فـــرماندهـــئ جلال الدين حقاني ،اين سنګر تسخير ناپذير مقاومت به شدت تقبيح مينمايد. »
پښتو متن کې بيا داسې راغلي دي :
« او په هېواد کې د بهرنيو ځواکونو خوځښتونه او د امريکايي بې پيلوټه الوتکو جنګي عمليات چې د بې ګناه پښتنو کورونه په نښه او د بې ګناه ماشومانو ، ښځو او نارينوو ژوند ور اخلي په کلکه غندي »
دا چې اعلاميه وايي د حقاني سنګر افغاني سنګر دي، ايا ريښتيا افغاني سنګر دی؟ د پنجاب لوړپوړي چارواکي، د پوځ او ای ايس ای مشران په وار وار وايي چې حقاني، ملاعمر او ګل بدين د دوی کسان دي. د اعلاميي ليکونکي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ددغو جلادانو په اړه چې دوی د پنجاب لاسپوڅي نه دي کوم د ډاډوړ لاسوند ښودلای شي ؟ ایا حقاني د ای ایس ای له ملاتړپرته په افغانستان کې افغانان وژلای شي، خپل هېواد افغانستان ویجاړولای شي؟ ایا وزیرستان د القاعده او ترهګرو اډه ده که د افغاني مقاومت سنګر؟ د افغانستان د ژغورنې د جرګې په نوم د اعلامیې د متن، د ملاعمر او ګل بدین او حقاني د اعلامیو او د پرویز مشرف، جنرال حمیدګل او د ای ایس ای د نورو مشرانو د اعلامیو او څرګندونو په منځ کې کوم ښکاره توپیر نه لېدل کیږي . مفاهیم یو دي یوازې جملې کېدای شي بدلې وي.
اعلامیه کې ویل کیږي « د افغانستان د ژغورنې جرګه د ډیورنډ د لانجې اوارې یوازې په هېواد کې د سیاسي ثبات، د ملي واکوالی د حق د پېژندلو او د یوه غښتلي حکومت د ټېنګېدا په شرایطو کې چې د وسله وال مقاومت ملاتړ هم ورسره وي شونې ګڼي.»
دا خبرې دې ولسي اصطلاح ته پاتېږي چې وایي « بز بز نه مر، که جو لغمان میرسد » افغانان به د ډیورنډ کرښې په اړه تر هغو چې د اعلامیې د لیکونکو په اند وخت نه وي رسیدلای چوپ ناست وي، هیڅ به نه کوي او دا لویه ملي ستونځه به بې له هلو ځلو، کړاووګاللو او زیار پرته خپله او یا د نورو په لورینه او پیرزوینه حل شي!
بلخوا د ډیورنډ جرګه لروبرو افغانانو ته نه وایي چې هله ژر شی ټوپک واخلی او پر پنجاب ورپریوځی او له یوه سره یې د هند په سمندر ورلاهو کړی بلکې وایي چې افغانان باید خپل ختیځ سرحد وپېژني ، خپلو کې سره یوموټی شي او ددې ملي ستونځې د حل لپاره متې رابډ وهي، ټولې لارې او وسیلې چې قانوني او سوله یزې دې پکار واچوي . لومړی د ډیورنډکرښې په اړه پوره مالومات خپاره شي چې افغانان پرې وپوهیږي چې دا کرښه ولې او څنګه رامنځته شوه، د کرښې په اړه یو افغاني عام پوهاوي رامنځته شي. له صندوقونو، جعبو او الماریو څخه د ډیورنډ کرښې په اړه لاسوندونه راویستل شي او د افغانانو د پوهاوي لپاره د دوی په واک کې ورکړل شي او دا موضوع یو ملي بڼه ځانته خپله کړي. د افغانستان دولت اړویستل شي چې دا مساله په نړیواله کچه لکه د ملګرو ملتو ټولنه کې طرحه کړي. اوس چې ناټو افغانستان او سیمې ته راغلي هغوی سره پرې خبرې وشي، پنجاب سره پرې خبرې اترې وشي او ډېر نور کارونه او خبرې.
دغه خبره چې نوموړې جرګه یې خپله اعلامیه کې کوي «د وسله وال مقاومت او ملت پالو تر منځ له مذهبه د ملت پالنې په بیلېدا سره بېلتون رامنځته کړي او له دې لارې یو اړخ په خپلو پوځي عملیاتو کې شریک کړي او بل اړخ یې ګوښې ته او تجرید کړي.» کشکې په مذهبي توندلارو او سخت دریځو کې ملتپال ځواکونه غښتلي او پیاوړي وای چې د افغان ملت پرځای یې د خپلو ټوپکونو خوله د پنجاب په لور ورګرځولای وای. دغه ادعا چې د ژغورنې جرګه یې کوي په پراتیک کې یې کومه نښه نښانه نه لیدل کیږي، بې وریځې هیڅکله باران نه کیږي. که چیرې ترهګر ملتپال شي، ټوپکونه غوځار کړي، چاودونکي واسکټونه ایسته وغورځوي او د خپل ملت په څنګ کې ودریږي نو افغانان له خدایه غواړي څه ؟ بیا خو پنجاب نه په پنجاب او نه په لاهور کې ټینګېدای شي. افغانان خو پنجاب ته د همدغو توندلارو لخوا له پښو نیول شوي دي. که توندلارې تجرید او ګوښه شي دا نه یوازې بد کار نه دی بلکې ګټور او ستاینوړ کار هم دی.
د ژغورنې په نوم جرګې ته ښه سلا دا ده، دا ومنې چې افغانستان ته دا وخت ښه موقع پلاس ورغلي، له دې وخت نه باید ډېره ګټه پورته شي. له لویدیځ او امریکا څخه باید د ډیورنډ تپلې کرښې په له منځه وړلو کې د افغانستان په ګټه کار واخیستل شي. پخوا هم افغانانو ډېر مناسب چانسونه له لاسه ورکړي، دا ځل باید پخوانۍ تېروتنې تکرار نشي.
څونه ښه خبره ده چې دوه اونۍ وړاندې ډاکټر روستار ترکي د افغانستان اریانا ټلویزیون له لارې د ډیورنډ جرګې په ملاتړ ودرید او د ډیورند د کرغېړنې کرښې په اړه یې مستدلل او علمي دلایل وړاندې کړل. که دغه شان زموږ تاریخپوهان، سیاستپوهان او حقوقپوهان په ګډپوهاوي او سمپوهاوي سره راوړاندې شي او په څو جبهو کې د نویو حالاتو په پام کې نیولو سره د ډیورنډ ملي مساله طرحه کړي، د ډېرو افغانانو په اند یو ګټور او ملي اقدام دی.
پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ